بانک The Bank
میاشتنی | Monthly | ماهنامه
۲۱۳ گڼه - ۱۴۴۶ شوال المکرم - ۱۴۰۴ وری


# د مالي پرمختګ پر لور مهم ګام:
# د افغانستان بانک او د مالیې وزارت ترمنځ
# د برېښنايي ادائینو هوکړه



در بهبود سکتور بانکی تا حال، نقش مردم به خصوص مشتریان سکتور بانکی که با حوصله مندی تمام در کنار ما ایستادند، قابل ستایش است.






**د امتیاز خاوند: د افغانستان بانک**

**کتنپلاوی: فدا محمد فیضان، احمد جواد سداد او محمد ادریس رونق**

**سرلیکوال: شفیق الله بارز**



- د مالي پرمختګ پر لور مهم ګام: د افغانستان بانک او د مالیې وزارت ترمنځ د برېښنايي ادراینو هوکړه ۱
- ګرامین بانک: په بنګله دیش هېواد کې د وړو مالي تمویلاتو بریالی بېلګه او په افغانستان کې یې د پلي کولو څرنګوالی ۳
- رمز مبارزه با فساد: چگونه تکنالوژی دولتی مبارزه با فساد را دگرگون می‌سازد ۹
- مرکزي بانکونه باید د انفلاسیون کچې د راکمولو تر وروستي پړاو پورې محتاط واوسي ۱۳
- اقتصادي خبرونه ۱۷
- افزایش ذخایر اسعاری کشور چین ۱۹
- د ښوونې او روزنې پالیسی اغیزناکتیا ۲۲
- Advantages and Disadvantages of Import Substitution in Afghanistan ۳۰
- DAB, MoF Ink MoU on Digital Payments ۳۱



**مسئول مدیر: انور الله حیات**

**خبریالان: سید خالد خالقیار او زاهد الله احمدي**

**ډیزاین: خالد احمد فیضي**

**فوټوژورنالیست: زیرک ملیا**

**د وېش مسئول: نصرت الله احمدزی**

د چاپ شمېر: ۱۲۰۰ ټوکه

کال: اوولسم

پته: د افغانستان بانک

د ثبت ګڼه: ۶۵۸

ټلیفون: ۰۰۹۳۰۲۰۲۱۰۴۷۶۱

فکس: ۰۰۹۳۰۲۰۲۱۰۰۳۰۵

برېښنالیک: magazine@dab.gov.af

ویب پاڼه: www.dab.gov.af

۲۱۳



د مجلې د مقالو او انځورونو کارول د سرچینې په ذکر کولو سره جواز لري.

استفاده از مقالات و تصاویر مجله با ذکر مأخذ مجاز است.

# د مالي پرمختګ پر لور مهم ګام: د افغانستان بانک او د مالیې وزارت ترمنځ د بریښنایي اداینو هوکړه

۱۴۴۶د رمضان المبارک ۱۹ مه – د افغانستان بانک او د مالیې محترم وزارت ترمنځ په شفاف ډول د عوایدو راټولولو، امارتي لګښتونو او معاشونو د بریښنایي اداینو هوکړه لیک لاسلیک شو.

دا هوکړه د امیرالمؤمنین حفظه الله د سپارښتنو په رڼا کې د مالي سکتور د پرمختګ، روڼتیا او حساب ورکونې لپاره یو مهم ګام دی. د دې هوکړې له مخې، د افغانستان بانک بین البانکي اداینو سیستمونه (ACSS) او د افغانستان د اداینو سیستم (APS) به د مالیې وزارت اړوند سیستمونو ASYCUDA، SIGTAS او AFMIS سره وصل شي.

په هغه خبري کنفرانس کې چې د یادو سیستمونو د نښلونې د هوکړه لیک د لاسلیک په موخه د افغانستان بانک په مرکزي دفتر کې جوړ شوی وو، د افغانستان بانک لومړي مرستیال ښاغلي صدیق الله خالد دا چاره د هېواد د مالي او بانکي نظام د پرمختګ په برخه کې مهمه یاده کړه او زیاته یې کړه چې د دې سیستمونو په نښلولو سره به امارتي عواید په شفاف ډول راټولیږي، امارتي لګښتونه به د الکترونیکي اداینو له لارې تنظیم شي، د امارتي کارکوونکو معاشونه به پر وخت او په آسانه توګه ادا شي، د سوداګرو لپاره به د ګمرکاتو او بانکي سیستمونو اړینې آسانتیاوې زیاتې شي.

ښاغلي خالد زیاته کړه، د افغانستان بانک په خپلو داخلي ظرفیتونو د اداینو سیستمونه له سره رغولي، چې دا د مالي خپلواکۍ پر لور یو مهم پرمختګ دی. د



افغانستان بانک لومړي مرستیال وویل دغه هوکړه نه یوازې د عوایدو راټولولو، امارتي لګښتونو او معاشونو د اداینو شفافیت زیاتوي، بلکې د مالي فساد مخنیوی، د حساب ورکونې د کچې لوړول، د بانکي خدماتو د پراختیا رامنځته کول او د خصوصي سکتور لپاره آسانتیا هم تضمینوي، چې په پایله کې د هېواد اقتصادي ثبات او مالي سیستم پیاوړی کوي.

له هغه وروسته د افغانستان اسلامي امارت د مالیې قدرمن وزارت د عوایدو لوی رئیس ښاغلي حافظ مولوي شاه حسین حسیني خبرې وکړې، نوموړي وویل د خوښۍ ځای دی چې له فتحې وروسته ملي بودجه هر کال له ملي عوایدو څخه تمویلیږي، نو هیله لرو چې ټول وزارتونه او امارتي اداري د موجوده عایداتي سرچینو څخه عواید په شفاف ډول را ټول او د عوایدو د ضایع کېدو مخنیوی وکړي.

د ښاغلي حسیني په خبره له دې وړاندې وزارتونو او امارتي ادارو په مرکز او ولایتونو کې ملي عواید د بانک له لارې او ځیني عواید په فزیکي ډول راټولول، چې په فزیکي ډول د عوایدو راټولونې یو شمېر ستونزې رامنځته کړې وې، خو له دې وروسته به د یاد هوکړه لیک په اساس د لومړي ځل لپاره ملي عواید په شفافه توګه په برېښنایي ډول په ټاکلي وخت سره را ټولیږي او د مالیې وزارت واحد حساب ته به انتقالیږي.

د یادونې وړ ده چې د سیستمونو نښلول او د الکترونیکي اداینو سیستم پلي کول به د اجراآتو په چټکتیا او د مالي خدماتو په پراختیا کې مرسته وکړي. دا ټوله پروسه د شفافیت، حساب ورکونې او د معیاري مالي سیستمونو د پیاوړتیا سبب ګرځي، چې په مجموع کې د هېواد د اقتصادي ثبات او پرمختګ لپاره ستره ګټه ده.

باید وویل شي چې دا سیستمونه، پخوا د بهرنیو کمپنیو له لوري په لوړ لګښت جوړ شوي وو او د افغانستان اسلامي امارت له فتحې وروسته وتړل شول، خو د افغانستان بانک دا ننګونه یو فرصت وګاڼه او د خپلو داخلي ظرفیتونو پر مټ یې له سره ورغول. اوس دا سیستمونه د افغانستان بانک خپل ملکیت دی، چې نه یوازې په رغونه یې لګښت نه دی راغلی، بلکې کلنی فیس هم نه لري.



# ګرامین بانک: په بنګله دیش هېواد کې د وړو مالي تمویلاتو بریالی بېلګه او په افغانستان کې یې د پلي کولو څرنګوالی

واړه مالي تمویلات د نړۍ په بېلابېلو هېوادونو کې د پام وړ وده کړې او د اقتصادي پراختیا او د بېوزلۍ د کمولو په برخه کې یې د یوې پیاوړې وسیلې په توګه شهرت موندلی دی چې موخه یې له اقتصادي پلوه د ټیټ عاید لرونکو خلکو ځواکمنول دي. واړه مالي تمویلات په ځانګړې توګه په هغو هېوادونو کې چې د پراختیا په حال کې دي، د کوچنیو سوداګریو د پیل او یا د پراختیا لپاره د اړینو مالي سرچینو د چمتو کولو له لارې د خلکو د ژوند د شرایطو په ښه کولو او بېوزلۍ په کمولو کې د پام وړ رول لوبوي. واړه مالي تمویلات هغو خلکو ته چې بانکي سیستمونو ته لاسرسی نلري او د خپلو سوداګریو د پیلولو یا پراخولو لپاره کافي پانګه نلري، د تمویلاتو او مالي خدماتو د چمتو کولو پر مټ دا ځواک ورکوي ترڅو خپله سوداګري پیل او پراخه کړي. واړه مالي تمویلات محلي اقتصاد پیاوړی کوي، دندې رامنځته کوي، او د هغو خلکو د مالي سواد د زیاتوالي لامل کیږي چې مالي پانګې ته لاسرسی نلري. په پایله کې یې د خلکو د ژوند معیار لوړیږي، د کورنیو عاید زیاتیږي، او د ټولنو اقتصادي هوساینه وده کوي. واړه مالي تمویلات د معاصرې ټکنالوژۍ او نوښتګرو میتودونو له لارې په بېلابېلو هېوادونو کې د باثباته ټولنو په رامنځته کولو کې د یوې مهمې وسیلې په توګه خپل شتون ثابت کړی دی.

په ټوله نړۍ کې د بریالیو مالي پروژو بېلابېلې بېلګې شته چې د بنګله دیش ګرامین بانک هم پکې شامل دی. ګرامین بانک د وړو مالي تمویلاتو د یوې مخکښې او بریالۍ نمونې په توګه پیژندل شوی دی چې مالي خدماتو ته یې د بېوزلو لاسرسی په مثبت ډول بدل کړی دی. د دې مقالې موخه دا ده چې د دې بانک ستراتیژۍ، تګلارې او موخې وڅېړل شي ترڅو روښانه شي چې یاد بانک څنګه وکولای شول چې د وړو مالي تمویلاتو یو بریالی موډل پلی کړي او په بنګله دیش او نورو سیمو کې د ډېرو خلکو پر ژوند مثبتې اغېزې پرېږدي. سربېره پر دې، په افغانستان کې د ګرامین بانک د کوچنیو پورونو د ورته موډل د احتمالي پلي کولو فرصتونه او ننګونې هم تر بحث لاندې نیول شوې دي.



### ګرامین بانک

ګرامین بانک په ۱۹۸۳ کال کې د نوبل جایزې ګټونکي محمد یونس لخوا تأسیس شو، چې د ټولنې میلیونونو محرومو وګړو ته یې د وړو مالي تمویلاتو د پراخو خدمتونو په وړاندې کولو سره د کوچنیو سوداګریو د پیلولو توان ور په برخه کړی دی. وروستی احصائیې ښیي چې یاد بانک له خپل تأسیس راهیسې د 2025 کال تر فبرورۍ شاوخوا 10.68 میلیونه وګړو ته د 40.052 میلیارد ډالرو مالي تمویلات ورکړي دي. دا بانک د ټولنې تر ټولو بېوزلو طبقو په ځانګړې توګه هغو کسانو ته د مالي خدماتو د وړاندې کولو په موخه تأسیس شوی، چې د فرهنګي لاملونو له امله له رسمي بانکي خدماتو څخه بې برخې پاتې شوي وو. د ګرامین کلمه د "کلي یا کلیوال" معنی لري، چې پر کلیوالي ټولنو د بانک قوي تمرکز منعکسوي. د ټولنې او متقابل ملاتړ احساس په رامنځته کولو سره، ګرامین بانک نه یوازې مالي شمولیت ته لاره هواره کړې بلکې ټولنیزه ځواکمنتیا یې هم هڅولې ده.

### د ګرامین بانک ستراتیژۍ

د ګرامین بانک د وړو مالي تمویلاتو ستراتیژۍ څو نوښتګرې ځانګړتیاوې لري، چې دلته پرې بحث کیږي:

### کوچنۍ ډلې

د دې ستراتیژۍ له مخې، ګرامین بانک د وړو مالي تمویلاتو کاروونکي په بېلابېلو ډلو ویشي چې هره ډله معمولاً پنځه غړي لري. دا ډله ییز ویش د وړو مالي تمویلاتو کاروونکو لپاره خورا مهم دی ځکه چې دا چاره د غړو ترمنځ د ټولنې او باور احساس پیاوړی کوي او د دوی لپاره له یو بل څخه ملاتړ آسانوي. سربېره پردې، د ډلې جوړښت د متقابل حساب ورکولو یو سیستم رامنځته کوي. هر غړی نه یوازې دا چې بانک ته د خپل تمویل د بیرته ورکولو مسئولیت لري، بلکې په ډله کې د نورو غړو د تمویل د بیرته ورکولو پر وړاندې هم مسئول ګڼل کیږي. دا د ګډ مسئولیت احساس د ډلې غړي هڅوي چې د تمویل او مالي چارو په مؤثر مدیریت کې له یو بل سره مرسته وکړي. د ډلې غړي به یو بل څخه روانې او عملي ملاتړ کوي. په دې ملاتړ کې د سوداګریزو ستراتیژیو شریکول، یو بل هڅول، او د هغو ستونزو په حل کولو کې مرسته کول شامل دي چې ممکن دوی ورسره په سوداګریزو چارو کې مخ شي. د دې ډول ملاتړ شبکې د هغو کاروونکو لپاره خورا مهم ګڼل کیږي چې ممکن د سوداګرۍ په مدیریت کې کافي تجربه ونلري. همداراز، که چیرې یو غړی د تمویل په بیرته ورکولو کې پاتې راشي، نو ټوله ډله ممکن د منفي پایلو سره مخ شي. د بېلګې په توګه بانک ښایي په راتلونکي کې دوی ته بیا تمویل ورنکړي. دا چاره د ډلې غړي هڅوي چې تمویل پر ټاکلي وخت بیرته ورکړي. په راتلونکي کې تمویل ته د نه لاسرسي ویره د ډلې غړي هڅوي ترڅو ډاډ ترلاسه کړي چې په ډله کې هرڅوک د خپلو اداینیزو مکلفیتونو پر وړاندې وفادار پاتې شي.

### د تضمین اینښودلو اړتیا نشته

د ګرامین بانک د وړو مالي تمویلاتو یوه بله مهمه ځانګړتیا د هغه پالیسي ده چې د تمویل لپاره تضمین ته اړتیا نلري. دا تګلاره په ځانګړي ډول د ټیټ عاید لرونکو اشخاصو لپاره مهمه ده چې ډیری وختونه د وړو مالي تمویلاتو د کارولو په برخه کې د تضمین لپاره اړینې شتمنۍ نلري. دا ستراتیژي څو مهمې پایلې لري. ګرامین بانک، د تضمین د اړتیا له منځه وړلو سره، د هغو خلکو پر مخ د مالي خدماتو دروازې پرانیستې دي چې بېلابېلو لاملونو له کبله له بانکي سیستم څخه لېرې پاتې دي. ډیری ټیټ عاید لرونکي خلک ملکیت یا قیمتي شتمنۍ نلري، چې له امله یې د دوی لپاره له مالي ادارو څخه د وړو مالي تمویلاتو ترلاسه کول تقریباً ناشوني وي. د ګرامین بانک ماډل دغو خلکو ته اجازه ورکوي چې هغې پانګې ته لاسرسی ومومي چې دوی ورته د کوچنیو سوداګریو د پیل یا پراختیا، په تعلیم کې پانګونې، یا د ژوند د شرایطو ښه کولو لپاره اړتیا لري. دا پالیسي د وړو مالي تمویلاتو کاروونکو ته دا توان هم ورکوي چې د خپلو شتمنیو له لاسه ورکولو له ویرې پرته خپل مالي راتلونکی مدیریت او اداره کړي. دا ځواکمنتیا په ټولنه کې د هغو کسانو لپاره خورا مهمه ده چې لږې شتمنۍ لري او مالي سرچینو ته د لاسرسي لپاره له لویو خنډونو سره مخ دي. ګرامین بانک بې وزلو ته له تضمین پرته واړه مالي تمویلات ورکوي ترڅو هغوی وکولای شي چې په سوداګریزو فعالیتونو کې برخه واخلي، له اقتصادي پلوه خپلواک شي او د خپلو کورنیو او ټولنې په هوسانه کې خپل رول په غوره توګه ولوبوي. سربېره پر دې، د تضمین اړتیا له منځه وړلو پالیسي د دودیزو مالي خدمتونو د اصولو پرځای د باور پر اصل ولاړه ده. ګرامین بانک د وړو مالي تمویلاتو کاروونکي د هغوی د شخصیت، ژمنتیا او د

اړوندې ډلې د غړو ترمنځ ملاتړ پر بنسټ ارزوي. دا پالیسي د تضمین پر ځای په ټولنیزې پانګې باندې تمرکز کوي چې په پایله کې یې د ډلې د غړو ترمنځ د ټولنې او مسئولیت احساس رامنځته کوي، او دوی هڅوي چې د خپلو مالي مکلفیتونو په پوره کولو کې د یو بل ملاتړ وکړي.

**د تمویل لږ مقدار**

د ګرامین بانک د وړو مالي تمویلاتو د ماډل بله مهمه ځانګړتیا د لږ مقدار تمویل دی چې معمولاً له 20 ډالرو څخه تر 2،500 ډالرو پورې وي. دا تګلاره د ټیټ عاید لرونکو اشخاصو د ځانګړو مالي اړتیاوو د پوره کولو لپاره جوړه شوې ده او د بانک د عمومي ستراتیژۍ یوه مهمه برخه ده چې د وړو مالي تمویلاتو کاروونکو ته مالي ځواک ورکوي او د اقتصادي پراختیا د هڅونې لامل کیږي. د وړو مالي تمویلاتو کاروونکو لپاره د تمویل لږ مقدار په ښه ډول اداره کېدای شي او د تمویل کاروونکي په آسانۍ سره کولای شي چې له فشار څخه پرته خپل تمویل په ټاکلي وخت بیرته ورکړي. د ډیرو ټیټ عاید لرونکو خلکو لپاره، حتی لږه پانګه هم کولای شي د سوداګرۍ پیلولو یا پراخولو په برخه کې د هغوی په وړتیا کې د پام وړ بدلون راولي. همداراز، د تمویل لږ مقدار کولای شي چې د تمویل د ودې لامل شي. د وړو مالي تمویلاتو کاروونکي کولای شي خپل کاروبار له لږ مقدار تمویل سره پیل کړي او په بریالۍ توګه له بیرته ورکولو څخه وروسته، په راتلونکو دورو کې د ډیر مقدار تمویل د ترلاسه کولو وړ شي. دا تدریجي چلند د وړو مالي تمویلاتو کاروونکو ته دا توان ورکوي چې د وخت په تیریدو سره خپل اعتبار او د مالي مدیریت مهارتونه ښه کړي، چې په پایله کې د مالي ثبات او په راتلونکي کې د سوداګرۍ د پراختیا احتمال رامنځته کوي. سربېره پردې، د لږ مقدار تمویل چمتو کول د بې وزلۍ په کمولو کې مستقیم اغېزه لري. څېړنو ښودلې ده چې وړو مالي تمویلاتو ته لاسرسی کولای شي د کورنیو عاید لوړ کړي، د ژوند معیار ښه کړي او وګړي د دې جوګه کړي چې تعلیم او درملنې ته غوره لاسرسی ومومي.

**مالي سواد او زدکړه**

د ګرامین بانک د وړو مالي تمویلاتو د ماډل یو بل عنصر پر مالي سواد او زدکړې قوي ټینګار دی. ګرامین بانک په دې باور دی چې یوازې پانګې ته لاسرسی د دوامداره اقتصادي پرمختګ لپاره کافي نه دی. دې موخې لپاره بانک هر اړخیز روزنیز پروګرامونه وړاندې کوي چې د وړو مالي تمویلاتو کاروونکو ته د هغوی د مالي چارو د مؤثر مدیریت لپاره اړینه پوهه او مهارتونه چمتو کوي. ګرامین بانک د وړو مالي تمویلاتو کاروونکو لپاره منظم ورکشاپونه او روزنیزې غونډې ترسره کوي. دا غونډې د موضوعاتو پراخه لړۍ پوښي چې په دې کې بودجه جوړول، سپما، د سوداګرۍ مدیریت، مالي پلان جوړونه او نور موارد شامل دي. د عملي پوهې په ورکولو سره، بانک له وړو مالي تمویلاتو کاروونکو سره مرسته کوي ترڅو د دې پوهه ترلاسه کړي چې څنګه خپلې سرچینې په هوښیارۍ سره تخصیص کړي او باخبره مالي پرېکړې وکړي. سربېره پر دې، مالي سواد د افرادو د پیاوړتیا لپاره یوه پیاوړې وسیله ده. ګرامین بانک د وړو مالي تمویلاتو کاروونکو ته دا توان ورکوي چې د مالي مفاهیمو او فعالیتونو په اړه د معلوماتو او پوهاوي د ترلاسه کولو له لارې خپل مالي راتلونکې مدیریت او اداره کړي. دا توان په ځانګړې توګه د ټولنې د هغو وګړو لپاره اړین دی چې د کلتوري او اقتصادي دلایلو له امله معلوماتو او مالي سرچینو ته د لاسرسي په برخه کې له لویو خنډونو سره مخ دي.

**د ګرامین بانک موخې**

ګرامین بانک مالي سرچینو ته د لاسرسي په برابرولو سره، ژمن دی ترڅو د وړو مالي تمویلاتو کاروونکي له بېوزلۍ څخه وباسي او د ژوند کیفیت یې ښه کړي. د بانک تمرکز د ټولنې محرومو او زیان منونکو برخو ته دی، په ځانګړې توګه هغه اشخاص چې د کلتوري او اقتصادي دلایلو له امله معلوماتو او مالي سرچینو ته د لاسرسي په لاره کې له لویو خنډونو سره مخ دي. دا چاره د بانک ژمنتیا منعکسوي چې د ټولنې محرومو برخو ته اقتصادي ځواک ورکړي او د کورنیو او ټولنې په پرمختګ کې د هغوی مهم رول په ګوته کړي. دا بانک د خپلو کاروونکو ترمنځ د سوداګرۍ او پر ځان باورۍ د هڅولو له لارې دوامداره اقتصادي فعالیتونو ته وده ورکوي، چې په بنګله دیش او نورو سیمو کې د بېوزلۍ د کمولو په برخه کې یې د پام وړ اغېزې درلودلې دي. څېړنې ښیي چې د وړو مالي تمویلاتو کاروونکي په کوچنیو سوداګریو کې د پانګونې له لارې د خپل عاید کچه لوړوي چې دا چاره د ژوند معیارونه او اقتصادي ثبات ښه کوي. سربېره پر

دې، د ګرامین بانک ماډل د ټولنې یووالي او په ټولنو کې د ډله ییز عمل او نوښتونو پیاوړتیا ته وده ورکړې ده، ځکه چې د ډلې غړي په خپلو مالي هڅو کې د یو بل ملاتړ کوي.

**په نورو هېوادونو کې د ګرامین بانک ماډل تطبیق**

د ګرامین بانک بریالیتوب د نړۍ په نورو هېوادونو کې د ورته وړو مالي تمویلاتو ادارو د رامنځته کېدو لامل شوی دی. د هند، بولیویا او اندونیزیا په څېر هېوادونو د ګرامین بانک مختلف ماډلونه غوره کړي او د خپلو اصولو او شرایطو سره سم یې تطبیق کړي دي. د مثال په توګه، هند، د ګرامین بانک د وړو مالي تمویلاتو ماډل څخه الهام اخیستی، او دې ته ورته ماډل چې "له ځان سره د مرستې ګروپ" (Self-Help Group) په نوم یادیږي، رامنځته کړی دی. په دې ماډل کې هغه ښځې شاملې دي چې د ګرامین بانک د ډله ییز تمویل له ستراتیژۍ څخه یې الهام اخیستی او د سپما او تمویل لپاره ډلې جوړوي. سربیره پر دې، په ټوله نړۍ کې بېلابېلو سازمانونو، لکه په لاتین امریکا کې د وړو تمویلاتو ادارو هم د ګرامین ماډل پر بنسټ د وړو تمویلاتو پروګرامونه پلي کړي دي، چې د ټولنې پراختیا او د بېوزلۍ پر کمولو تمرکز کوي.

**په افغانستان کې د ګرامین بانک ماډل پلي کول**

دا چې د نړۍ په نورو هېوادونو کې د ګرامین بانک په څېر ماډلونو هیله بښونکې پایلې درلودلې دي، افغانستان هم کولای شي د دې ماډل څخه په الهام اخیستلو د اسلامي شریعت په رڼا کې د اسلامي اقتصاد او بانکوالۍ د اصولو په پام کې نیولو سره په هېواد کې ورته ماډل پلی کړي. د دې ډول ماډل د پلي کولو په لړ کې فرصتونه او ننګونې شتون لري، په افغانستان کې دې ورته ماډل احتمالي ګټې او ننګونې لاندې څېړل کیږي.

**فرصتونه:**

**وړو مالي تمویلاتو ته زیاته تقاضا**

افغانستان د ټیټ عاید لرونکو اشخاصو او کورنیو لوی نفوس لري چې بانکي خدماتو او مالي سرچینو ته لاسرسی نلري. د وړو مالي تمویلاتو تقاضا د داسې اشخاصو په منځ کې ډېره ده، په ځانګړې توګه په ټولنه کې د هغو کسانو په منځ کې چې د کلتوري او اقتصادي دلایلو له امله له مالي شمولیت څخه محروم دي. له اسلامي شرعي قانون سره سم د ګرامین بانک ماډل پلي کول کولای شي د کوچنیو سوداګریو پیلولو او د دې خلکو د ژوند ښه کولو لپاره اړینه پانګه چمتو کړي. سربېره پر دې، افغانستان قوي ټولنیزې اړیکې لري چې د کوچنیو ډلو پر بنسټ د تمویلاتو جوړښتونو د برابرولو لپاره کارول کیدای شي. د وړو مالي تمویلاتو کاروونکي په کوچنیو ډلو ویشل به وکولای شي چې حساب ورکولو او متقابل ملاتړ ته وده ورکړي. دا جوړښت کولای شي د تمویلاتو بیرته ورکولو کچه لوړه کړي او د وړو مالي تمویلاتو کاروونکو ترمنځ همکاري وهڅوي. د ګرامین بانک ماډل دا موخه چې د ټولنې هغو غړو ته د تمویلاتو چمتو کول په پام کې نیسي، چې د کلتوري دلایلو له امله له مالي شمولیت څخه محروم دي، د افغانستان له اړتیا سره سمون لري او دا موخه کولای شي چې په اقتصادي شمولیت کې د خلکو لوړه سلنه ترلاسه کړي. د وړو مالي تمویلاتو له لارې د داسې اشخاصو ځواکمنول کولای شي چې د کورنیو او اقتصادي ودې د ښه والي په څېر پراخې ټولنیزې ګټې ولري.

**ښه امنیتي وضعیت**

که تېرې څو لسیزې په پام کې ونیول شي نو دا څرګنده ده چې افغانستان د څو لسیزو جګړو او بې ثباتۍ سره مخ وو چې د اقتصادي پراختیا او مالي خدماتو ته د لاسرسي مخه یې نیولې وه. اوسنی امنیتي وضعیت د تېرو څلورو لسیزو په پرتله خورا ښه دی چې د وړو مالي تمویلاتو د نوښتونو لپاره یې یو ډېر مناسب چاپېریال رامنځته کړی دی. په وروستیو کلونو کې، افغانستان په خپل امنیتي وضعیت کې یو ډراماتیک بدلون تجربه کړ چې دا د ګرامین بانک په څېر ماډل د پلي کولو لپاره یو ځانګړی فرصت په ګوته کوي. د امنیتي شرایطو ښه والي په هغو سیمو کې د وړو مالي تمویلاتو مؤسسو (MFIs) د جوړولو او فعالیت لپاره یو ښه فرصت دی چې پخوا د تاوتریخوالي او ناکراریو له امله ناممکن وو. دا ثبات د وړو مالي تمویلاتو ادارو ته دا توان ورکوي چې محرومو خلکو ته لاسرسی ولري، په ځانګړې توګه په کلیوالي سیمو کې چې مالي خدمات پکې کم دي. هر څومره چې امنیتي وضعیت ښه کیږي، ټولنې په ډله ییزو اقتصادي فعالیتونو کې ډېرې ښکیلیږي. خوندي چاپېریال د د وړو مالي تمویلاتو د احتمالي کاروونکو ترمنځ باور پیاوړی کوي او د ډلو پر بنسټ د وړو مالي تمویلاتو ماډلونه ډېر دوامداره کوي. د وړو مالي تمویلاتو کاروونکي کولای شي د پیوستون ډلې جوړې کړي، لکه څنګه چې د ګرامین

بانک په ماډل کې ليدل کيږي، چې حساب ورکول زياتوي او د پور د بيرته ورکولو په برخه کې د پاتې راتلو خطر کموي.

اوسنيو امنيتي پرمختګونو د ملګرو ملتونو او مختلفو غير دولتي ادارو په شمول نړۍوال سازمانونه هڅولي دي چې په افغانستان کې د وړو مالي تمويلاتو سکتور لپاره خپل ملاتړ زيات کړي. دا سازمانونه کولای شي چې د وړو مالي تمويلاتو پروګرامونو د جوړولو او دوام لپاره اړين تمويل، روزنه او سرچينې چمتو کړي او ډاډ ترلاسه کړي چې د هغوی پروګرامونه د سيمې شرايطو او اړتياوو سره سمون لري. سربېره پر دې، يو خوندي چاپيريال کولای شي اقتصادي بيارغونه وهڅوي او افرادو ته دا توان ور په برخه کړي چې په کوچنيو سوداګريو کې د خپلو پانګونو له لاسه ورکولو د ويرې څخه پرته پانګونه وکړي. په داسې حالت کې به د وړو مالي تمويلاتو خدمتونو ته تقاضا زياته شي او د وړو مالي تمويلاتو ادارو لپاره به يو قوي بازار رامنځته شي.

**ننګونې**

سره له دې چې مالي سواد د ګرامين بانک د ماډل بنسټ جوړوي، د افغانانو د پام وړ شمېر وګړي مالي سواد نلري چې د مالي محصولاتو او مالي چارو په اغېزمنه توګه اداره کولو لپاره اړين ګڼل کيږي. له کافي زدکړې او روزنې څخه پرته، د وړو مالي تمويلاتو کاروونکي ممکن د باخبره پريکړو کولو لپاره له ستونزو سره مخ شي او د تمويلاتو د بيرته ورکولو په برخه کې د پاتې راتللو خطر زيات کړي. سربېره پردې، د ټرانسپورټ او مخابراتي سيستمونو او مالي زيربناوو په شمول د افغانستان زيربناوې د بنګله ديش په پرتله وروسته پاتې دي. دا چاره کولای شي د وړو مالي تمويلاتو خدماتو وړاندې کول پيچلي کړي، په ځانګړې توګه په کليوالي سيمو کې چې مالي ادارو ته لاسرسی پکې محدود دی.

**حل لارې څه دي؟**

**په افغانستان کې پر مالي سواد او زده کړې تمرکز**

د مالي سواد د نشتوالي ننګونې ته د رسيدنې او په مؤثره توګه په افغانستان کې د ګرامين بانک په څېر د وړو مالي تمويلاتو د ماډل پلي کولو لپاره پر مالي سواد او زدکړو تمرکز ډير اړين دی. دا تمرکز د جامع روزنيزو پروګرامونو او د سوداګرۍ د پراختيا د ملاتړ له لارې ترلاسه کيدای شي، چې د وړو مالي تمويلاتو کاروونکي ځواکمنوي او د پانګونو او مالي چارو د اداره کولو په برخه کې د هغوی د برياليتوب وړتيا لوړوي. د دې موخې د ترلاسه کولو لپاره، د مالي سواد او زدکړې ورکشاپونو او د زدکړې لپاره يو داسې چاپيريال او وسيلې چمتو کولو ته اړتيا ده چې د اساسي مالي مفاهيمو لکه: د بودجې جوړولو، سپما، او د مهمو مالي اصطلاحاتو په اړه پوهه راونغاړي. دا ورکشاپونه کولای شي د وړو مالي تمويلاتو له کاروونکو سره مرسته وکړي چې په مؤثره توګه د مالي چارو د اداره کولو او د خپلو مالي چارو په اړه د باخبره پريکړو کولو اهميت درک کړي. دا چاره د محلي روزونکو پر مټ ترسره کيدلای شي چې د سيمو له کلتور سره بلد وي او کولای شي په مؤثره توګه له ګډونوالو سره اړيکه ونيسي او ډاډ ترلاسه کړي چې محتوا اړونده او د لاسرسي وړ ده. د تمويل د شرايطو په اړه د ځانګړو روزنيزو پروګرامونو چمتو کول د وړو مالي تمويلاتو کاروونکو سره مرسته کوي چې خپل مکلفيتونه او د تمويل اغېزې درک کړي. سربېره پردې، په ملي او محلي ژبو کې د مالي سواد زدکړې د سرچينو مرکزونو جوړول به د وړو مالي تمويلاتو کاروونکي د دې جوګه کړي چې د سوداګرۍ د مديريت د وسيلو او مالي سرچينو ته د لاسرسي د موندلو په اړه معلومات ترلاسه کړي. دا مرکزونه کولای شي د متشبثينو ترمنځ د پوهې شريکولو او د شبکو جوړولو لپاره د يوه واحد ځای په توګه کار وکړي. د مالي سواد سرچينې نه يوازې په ليکلې بڼه بلکې د رسنيو له لارې په کيسه ييزه او انځوريزه بڼه هم کيدلای شي څکه چې د افغانانو عمومي سواد دې ته اړتيا لري. په ورته ډول، ډيجيټل وسيلو او پليټ فارمونو ته لاسرسی، لکه د محاسبې سافټوير او د آنلاين بازار موندنې سرچينې، کولای شي د وړو مالي تمويلاتو کاروونکو سره مرسته وکړي چې خپل کاروبارونه په مؤثره توګه اداره کړي. د وړو مالي تمويلاتو کاروونکو، متشبثينو، او ملي او محلي پانګوالو په ګډون د پروګرامونو او ورکشاپونو تنظيمول کولای شي د شبکو په جوړولو کې مهم رول ولوبوي څکه چې له دې لارې، د وړو مالي تمويلاتو کاروونکي کولای شي په کاري ساحه کې د متشبثينو او پانګوالو سره اړيکه ونيسي، د يو بل له تجربو څخه ګټه پورته کړي، او د همکارۍ فرصتونه وپلټي.

**د مالي او تخنيکي زيربناوو پراختيا**

د ډيجيټل مالي خدماتو پراختيا ته وده ورکول کولای شي د وړو مالي تمويلاتو سرچينو ته د لاسرسي په کچه کې د پام وړ زياتوالی رامنځته

کړي. په دې کې د موبایل بانکوالی او ډیجیټل اداینو وسایل شامل دي چې کاروونکو ته د دې توان ورکوي چې په آسانۍ سره خپلې مالي چارې او معاملې اداره کړي. د موبایل بانکوالۍ ټکنالوژۍ او ډیجیټل اداینو په کارولو سره، مالي ادارې کولای شي په لرې پرتو سیمو کې محرومو خلکو ته لاسرسی پیدا کړي. د مالي ټکنالوژۍ (Fintech) شرکتونو سره همکاري کولای شي د افغان کاروونکو له اړتیاوو سره سم د نوښتګرو مالي محصولاتو معرفي کول آسانه کړي. دا همکارۍ کولای شي د کاروونکو اپلیکیشنونو (کاریالونو) په پراختیا کې مرسته وکړي چې د تمویلاتو پروسه ساده کړي او د کاروونکو ترمنځ مالي سواد ښه کړي.

د بانکي عملیاتو لپاره په اړینو فزیکي زیربناوو کې پانګونه اړینه ده. په دې کې په کلیوالي سیمو کې د وړو مالي تمویلاتو څانګې جوړول شامل دي ترڅو ډاډ ترلاسه شي چې خدمات د هغو کسانو لپاره د لاسرسي وړ دي چې ورته ډېره اړتیا لري. سربېره پر دې، په ټول هېواد کې د انټرنټ اتصال زیاتول د ډیجیټل مالي خدماتو بریالیتوب لپاره خورا مهم دي. په داسې زیربناوو کې پانګونه کولای شي د خلکو لاسرسی آنلاین بانکوالۍ او مالي خدماتو ته زیات کړي، چې په پایله کې به د وړو مالي تمویلاتو د ادارو د پوښښ ساحه پراخه شي. په ورته ډول، د نړۍوالو سازمانونو، لکه ملګرو ملتونو او مختلفو غیر دولتي سازمانونو سره ښکیلتیا، کولای شي د افغانستان د مالي زیربناوو د پراختیا لپاره اړین تمویل او تخنیکي مرسته چمتو کړي. دا سازمانونه کولای شي د هغو پروژو په پلي کولو کې مرسته وکړي چې هدف یې د مالي سواد لوړول، ظرفیت لوړول، او ټکنالوژۍ ته لاسرسی ښه کول دي.

**پایله**

افغانستان له اسلامي شرعي اصولو سره سم وړو مالي تمویلاتو ته د لاسرسي په برابرولو سره کولای شي محلي اقتصاد وهڅوي او تشبث ته وده ورکړي. د وړو مالي تمویلاتو په کارولو سره، کوچني شرکتونه او سوداګرۍ کولای شي خپل کاروبارونه پراخ کړي او د ډېرو دندو او کارموندنې فرصتونو په رامنځته کولو، د کورنیو عاید زیاتولو، او په ټولیزه اقتصادي وده کې مرسته وکړي. سربېره پر دې، څېړنې ښیي چې د ګرامین بانک ماډل د کورنیو د بې وزلۍ په کمولو او د کوچنیو سوداګریو له لارې د عاید ترلاسه کولو لپاره د افرادو په وړتیا مثبته اغېزه کوي. په افغانستان کې د دې ماډل پلي کول کولای شي د بې وزلۍ د کچې په کمولو او د ډېرو کورنیو د ژوند د معیار په ښه کولو کې مرسته وکړي. همداراز، د تمویل لپاره د ډلو پر بنسټ چلند ټولنیز یوالي او د ټولنې شمولیت پیاوړی کوي. لکه څرنګه چې د وړو مالي تمویلاتو کاروونکي د تمویلاتو د بیرته ورکولو او د سوداګرۍ په پراختیا کې د یو بل ملاتړ لپاره یوځای کار کوي، دا چاره کولای شي د ټولنې اړیکې پیاوړې کړي او پرمختګ ته وده ورکړي.

څرنګه چې د ګرامین بانک د وړو مالي تمویلاتو ماډل نه یوازې په بنګله دیش کې د میلیونونو خلکو ژوند بدل کړی دی بلکې په نړۍواله کچه یې ورته نوښتونه هم هڅولي دي، نو په افغانستان کې د ګرامین بانک ماډل پلي کول د مالي شمولیت او اقتصادي پراختیا د زیاتوالي لپاره هم یوه عملي سیناریو وړاندې کوي. که څه هم د مالي سواد اړتیا او د مالي او ټکنالوژیکي زیربناوو د پراختیا په څېر ننګونې باید حل شي، خو د وګړو او ټولنو لپاره احتمالي ګټې د پام وړ دي. افغانستان د ټولنو په ملاتړ او له مالي پلوه محرومو خلکو ته د ځواک ورکولو په تمرکز سره کولای شي د وړو مالي تمویلاتو یو داسې چاپیریال رامنځته کړي چې د مثبت بدلون څرګندوی وي.

**انورالله حیات، د افغانستان بانک د خېړونو ارشد مدیر**


اخذلیکونه:

1. Grameen Bank. (n.d.). Grameen Bank – Bank for the Poor. Retrieved December 25, 2024, from https://grameenbank.org.bd/
2. Yunus, M. (2022). Small loans, big dreams: Grameen Bank and the microfinance revolution in Bangladesh, America, and beyond (2022 ed.). PublicAffairs.
3. Grameen Bank. (2024). Monthly report in USD - December 24. https://grameenbank.org.bd/archives/monthly/monthly-report-in-usd-December24
4. Khandker, S. R. (2005). Microfinance and Poverty: Evidence Using Panel Data from Bangladesh. The World Bank Economic Review, 19(2), 263-286.
5. Global Development Research Center. (n.d.). Grameen support group. https://www.gdrc.org/icm/grameen-supportgrp.html
6. Morduch, J. (1999). The Microfinance Promise. Journal of Economic Literature, 37(4), 1569-1614.
7. Nair, S. (2009). Self-Help Groups in India: A Study of Their Impact on Women's Empowerment. Journal of Social Issues, 65(3), 563-580.
8. Pitt, M. M., Khandker, S. R., & Cartwright, J. (2006). Empowering Women with Micro Finance: Evidence from Bangladesh. Economic Development and Cultural Change, 54(4), 791-831.
9. Yunus, M., & Moingeon, B. (2010). Building Social Business Models: Lessons from the Grameen Experience. Long Range Planning, 43(2-3), 308-325.

# رمز مبارزه با فساد: چگونه تکنالوژی دولتی مبارزه با فساد را دگرگون می‌سازد

فساد مانعی بزرگ فرا راه انکشاف و توسعه است. این پدیده به طور نامتناسب بر فقرا و آسیب‌پذیرترین طیف‌های جامعه تأثیر می‌گذارد، هزینه‌ها را افزایش و دسترسی به خدمات اساسی را کاهش می‌دهد.

بانک جهانی نزدیک به سه دهه است که با فساد مبارزه می‌کند. از زمان سخنرانی تاریخی رئیس بانک جهانی، جیمز وولفنسن، در سال ۱۹۹۶ تحت عنوان «سرطان فساد»، این نهاد جهانی در خط مقدم مبارزه با فساد و تقویت نهادهای دولتی قرار داشته است. بانک جهانی اکنون با استفاده از ابزارهای تکنالوژی دولتی یا نوآوری‌های دیجیتلی، در راستای افزایش شفافیت و پاسخ‌گویی گام برمی‌دارد.

تمرکز بر این روی کرد، پاسخی است به نیاز کشورهای عضو برای بهبود کارایی، حفاظت از سرمایه‌گذاری‌های مربوط به تغییر اقلیم، که پیش‌بینی می‌شود تا سال ۲۰۳۰ سالانه به ۱۰۰ میلیارد دالر برسد، تقویت تلاش‌ها برای بازگرداندن دارایی‌های غیرقانونی، و نیز پاسخ به مطالبات روز افزون مردم برای شفافیت و حساب‌دهی در عملکرد دولت‌ها.

### تکنالوژی دولتی محرکی برای اصلاحات سیستماتیک

تکنالوژی دولتی یک روی کرد نوآورانه و تحول‌گرا است که به‌صورت بنیادی به نارسایی‌های اساسی می‌پردازد که زمینه ساز



فساد سیستماتیک‌اند. بوسیله تلفیق ابزارهای دیجیتلی با اصلاحات گسترده‌تر در نظام حکومتداری، تکنالوژی دولتی می تواند بسترهای فساد را در صورتی که با شرایط محلی سازگار گردد و در چارچوب یک نظام حمایوی مؤثر به اجرا درآید، از ریشه برچیند.

ابزارهای دیجیتلی، ارائه خدمات عامه را با گسترش دامنه دسترسی، افزایش شفافیت و بهبود کارایی ارتقا می‌بخشد. در عین حال، تکنالوژی دولتی نقش مهمی در کاهش زمینه های فساد دارد. برای مثال، دیجیتل‌سازی روند صدور جوازها از طریق پورتال‌های رسمی دولت، فرصت‌های رشوه‌گیری و تبعیض را به‌طور قابل ملاحظه‌ای کاهش می‌دهد.

## چگونگی مقابله ابزارهای تکنالوژی دولتی با فساد

در ذیل درباره این که چگونه ابزارهای مشخص دیجیتلی، عوامل گوناگون فساد را هدف قرار می‌دهند، مرور کلی ارائه می شود. جدول تفصیلی را می‌توانید در این‌جا مشاهده کنید.

| سیستم بنیادی | عوامل فساد | انواع فساد | ابزارهای تکنالوژی دولتی | مثال مطالعه موردی |
|---|---|---|---|---|
| **کنترول معلومات** | نابرابری معلومات | نشر معلومات محرم تجارتی به بیرون، سوء استفاده از نفوذ | پورتال‌های حکومت الکترونیک، ابتکارات معلومات باز، و پلتفارم‌های دیجیتلی شفافیت | **نایجریا**: پروژه «اشتغال دولت و مصارف برای نتایج» یک پورتال مدیریت مالی دولتی آنلاین را راه‌اندازی کرد که نظارت بر هزینه‌ها را بهبود بخشید و خطرات فساد را کاهش داد. |
| **شفافیت و پروسه** | نبود شفافیت و پروسیجرهای پیچیده و مغلق | رشوه‌گیری، همکاری پنهانی و کمیشن‌های غیرقانونی | پلتفارم‌های تصمیم‌گیری دولتی، دیجیتل‌سازی پروسه‌ها، و جریان‌های کاری دیجیتلی | **جمهوری مولداوی**: دیجیتل‌سازی خدمات دولتی پروسه‌های مقرراتی را ساده ساخته و منجر به کاهش فساد و مصارف رعایت از قوانین در کسب‌وکارها شده است. |
| **سوء استفاده از قدرت** | اختیار گسترده و مداخله سیاسی | خویش‌خوری، واسطه‌گرایی، غنامندی نامشروع | بلاک‌چین، نظارت مبتنی بر هوش مصنوعی/یادگیری ماشین، ابزارهای تفتیش دیجیتلی، استخدام مبتنی بر شایستگی | **هند**: امتحانات آنلاین واجدشرایط بودن معلمین (TET) روند اعتباردهی را تسهیل بخشیده، واسطه‌ها را حذف نموده و فساد را کاهش داده است. |
| **خلاهای ارائه خدمات** | تقاضای بالا و موانع مصرف | رشوه‌گیری، جانبداری و تبعیض | پورتال‌های خدمات آنلاین، ابزارهای شفافیت هزینه و اپلیکیشن‌های خدمات موبایلی | **هند**: انتقالات مستقیم امتیازات (DBT) در بیمه زراعتی، پرداخت‌های مستقیم به دهاقین را تضمین کرده، واسطه‌ها را دور زده و خطرات فساد را به حداقل رساند. |
| **پاسخگویی و و ظرفیت** | نظارت ضعیف و معاش ناکافی | اختلاس، رشوه، تخطی از اصول صداقت و شفافیت | دشبوردهای نظارت بموقع، سیستم‌های شفاف پرداخت معاش و پلتفارم‌های مشارکت شهروندان | **زیمبابوی**: سیستم‌های معلومات مدیریت مالی (FMIS) باعث بهبود پیگیری مصارف سکتور صحت و شفافیت در پرداخت معاشات گردید. |

## تأثیر واقعی: مطالعات موردی تحلیلی

ابزارهای تکنالوژی دولتی نتایج قابل سنجش را در مناطق مختلف به همراه داشته‌اند. در ذیل چند مثال از بعضی کشور را با شما شریک می‌سازیم:

- دیجیتل‌سازی مراحل مقرراتی در **مولداوی** فرصت های رشوه‌گیری را تقلیل بخشید.
- سیستم آنلاین امتحانات در **پاکستان** واسطه را در روند اعتباردهی به معلمین از بین برد.
- ابتکار پرداخت مستقیم امتیازات در **هند**، پرداخت های بیمه‌ای شفاف و مستقیم به دهاقین را تضمین نمود.
- در **فیلیپین**، استفاده از سیستم‌های ثبت معاملات تجارت الکترونیکی و شناسایی دیجیتلی، پروسه‌های تأیید هویت را بهبود بخشید و تضمین نمود که کمک ها به دست مستفیدشوندگان واقعی می‌رسند.

## ایکوسیستم تکنالوژی دولتی ضدفساد

ما باور داریم که برای اثربخشی تکنالوژی دولتی، موجودیت چهار عنصر اساسی ذیل، ضروری است:

- **زیرساخت‌های تکنالوژیکی:** انترنت و برق قابل‌اعتماد ضروری هستند.
- **سواد دیجیتلی:** مقامات و شهروندان باید توانایی استفاده مؤثر از سیستم‌های دیجیتلی را داشته باشند.
- **چارچوب‌های حقوقی:** پروسه‌های دیجیتلی باید از نظر قانونی به رسمیت شناخته شوند تا از رعایت قوانین و مشروعیت آن‌ها اطمینان حاصل گردد.
- **فرهنگ بنیادی:** دولت‌ها باید شفافیت و پاسخ‌گویی را بپذیرند.

کاربرد تکنالوژی دولتی بدون خطر نیست. نگرانی در باره حریم خصوصی، به حاشیه راندن اقشار محروم از خدمات دیجیتلی، و وابستگی به تأمین‌کنندگان خارجی تکنالوژی، از جمله خطرات قابل توجهی در این زمینه هستند. بانک جهانی تلاش می‌کند این خطرات را با طرح و تدوین راه‌حل‌هایی فراگیر، متناسب با شرایط محلی، و هماهنگ با اصلاحات گسترده‌تر در نظام حکمرانی، کاهش دهد.

## فراخوان به عمل: شکل‌دهی آینده‌ی مبارزه با فساد از طریق تکنالوژی دولتی

برای مبارزه مؤثر با فساد، تکنالوژی دولتی باید در چارچوب ایکوسیستم اصلاحات جامع تطبیق شود. ابزارها باید متناسب با شرایط خاص هر منطقه طراحی شده و با اصلاحات بنیادی مدغم شوند تا پاسخ‌گوی نیازهای همه شهروندان باشند.

در **فورم بین المللی مشارکت‌ها برای مبارزه با فساد در تاریخ ۸–۹ اپریل ۲۰۲۵**، به بررسی دقیق‌تر این موضوعات خواهیم پرداخت و به بررسی رویکردهای مبتنی بر ایکوسیستم مبارزه با فساد خواهیم پرداخت. پالیسی‌سازان، تمویل کنندگان، متخصصین تکنالوژی و شهروندان به این گفتگو دعوت می‌شوند. بیایید با هم برای ساختارهای حکومتداری شفاف و پاسخ گو تلاش کنیم تا شهروندان را توانمند ساخته و توسعه پایدار را به پیش ببریم.

ترجمه: سید آصف فکرت عضو بورد ترجمه د افغانستان بانک

**منبع:**

World Bank. (2025). *Code against corruption: How GovTech is reshaping the fight against corruption.* https://blogs.worldbank.org/en/governance/code-against-corruption--how-govtech-is-reshaping-the-fight-again

**پول ما هویت ماست و ثبات آن ثبات اقتصاد ما. آنرا در داد و ستد های داخلی بکار می بریم و نمیگذاریم از ارزش آن کاسته شود.**



# مرکزي بانکونه باید د انفلاسیون کچې د راکمولو تر وروستي پړاو پورې محتاط واوسي

په دې وروستیو میاشتو کې په مالي بازارونو کې د خوښ باورۍ احساس زیات شوی دی، ځکه چې پانګه وال باور لري چې د انفلاسیون پر وړاندې مبارزه خپل "وروستي پړاو" ته رسیدلې او مرکزي بانکونه به په راتلونکو میاشتو کې په خپلو پولي سیاستونو کې د دې لپاره نرمښت او اساني رامنځته کړي، ترڅو د ټکټانې نرخ راکم او د پیسو عرضه زیاته کړي. د ونډو بازارونو سږ کال د نړۍ په کچه د پام وړ وده کړې ده. د شرکتونو او دولتونو لخوا د پورونو اخیستلو اړوند د لګښتونو ترمنځ د توپیر کچه راکمه شوې ده. د لویو غوړیدونکو اقتصادونو اسعار او د پانګې بهیرونه په مقاومت لرونکي او ارتجاعي حالت کې پاتې شوي دي، پداسې حال کې چې ګڼو کوچنیو او لږو پرمختللو اقتصادونو د تمویل نړۍوالو بازارونو ته لاسرسی موندلی دی.

خو بیا هم، د دې وروستي پړاو په اوږدو کې ښايي ځینې خنډونه رامنځته شي، لکه څنګه چې موږ یې د نړۍوال مالي ثبات په وروستي راپور کې ښیو. ښايي جیوپولیټیکي کړکیچونه او شخړې زیاتې شي او په پایله کې د پانګه والو په احساساتو منفي اغېزه وکړي. د سوداګریزو ملکیتونو او جایدادونو ستونزې لا سختې شوې دي، چې ښايي په ځینو پور ورکونکو باندې فشار زیات کړي. د چین مالي بازارونه د ملکیتونو سکتور د روانو ستونزو له امله د فشار لاندې دي. پر دې اړینو ستونزو او اندېښنو سربېره، د پور اړوند خطرونو سره مخ کېدل مخ پر زیاتېدو دي، په ډېری هېوادونو کې عامه او خصوصي سکتورونه په زیاته کچه پورونه اخلي، سره له دې چې د ټکټانې نرخونه لا تراوسه لوړ دي او ښايي اقتصادي وده هم ګړندۍ نه شي، لکه څنګه



چې د نړۍوال اقتصادي لید لوري (World Economic Outlook) لخوا اټکل شوې ده.

که یو ګام شاته ولاړ شو، وروستي شواهد ښيي چې په ځینو هېوادونو کې د انفلاسیون کمېدل ښايي ورو او حتی ودرېدلي وي، او ښايي بنسټیز انفلاسیون په ځینو سکتورونو کې دوامداره وي. په ځینو مواردو کې، هسته يي یا اصلي انفلاسیون د پرله پسې میاشتو لپاره د شنونکو د اټکلونو برعکس زیاتوالی مومي. کیدای شي مهم او کلیدي شاخصونه او له تمې څخه زیاتې څېړنې د وروستي پړاو نظریه او د اړوندو پانګه والو خوشبیني وننګوي، چې دا چاره په باالقوه توګه د مالي بازارونو د بیا بیې اېښودنې او زیاتو نوسانونو لامل ګرځي.

**نښتې (دوامداره) انفلاسیون**

په ټوله نړۍ کې له چټکه کمېدو وروسته، انفلاسیون په دې وروستیو کې په بیلا بیلو هېوادونو کې زیات انشعابي او متفاوت حالت غوره کړی دی. د روان کال معلومات ښکاره کوي چې هسته يي یا اصلي انفلاسیون په یو شمېر لویو پرمختللو او غوړېدونکو اقتصادونو (چک جمهوریت، فرانسه، جرمني، ایټالیا، فیلیپین، سویلي افریقا، سویډن، بریټانیا او د امریکا متحده ایالاتونو) کې په دې وروستیو دریو میاشتو کې د تېرو دریو میاشتو په پرتله ګړندی شوی دی.

راتلونکي ته په کتو، ځینې پانګه وال داسې وړاندوینه کوي چې ښايي د بیو فشارونه په چټکۍ سره راکم نشي. د راتلونکي کال یا دوو کلونو لپاره په لویو اقتصادونو کې د انفلاسیون اړوند توقعات، چې د اسمي او په انفلاسیون پورې تړلي د دولتي بانډونو د عوایدو ترمنځ د توپیر په وسیله ښودل کیږي، یو ځل بیا د لوړېدو په حالت کې دي. مهمه خبره دا ده چې یاد توقعات لا هم د مرکزي بانک له هدف کچې څخه لوړ دي، لکه په فرانسه، بریټانیا او متحده ایالاتو کې ۲ سلنه یا په برازیل او مکسیکو کې ۳ سلنه. د انفلاسیوني توقعاتو نور شاخصونه او اندازه کوونکي لکه د انفلاسیوني توقعاتو په اړه له کورنیو سرویګانو څخه ترلاسه شوي معلومات، نسبتاً زیات ثبات لرونکي او کره بریښي.

**د انفلاسیون کچې بیا لوړېدل**

د حکومتي بانډونو عواید ښيي، چې د راتلونکي یو یا دوو کلونو لپاره د انفلاسیون تمې لوړې شوې دي.




سرچینې: بلومبرګ فاینس .L.P او د پیسو نړۍوال صندوق د کارکوونکو محاسبې.

یادونه: اټکل شوی انفلاسیون د بازار له تمو سره سم د انفلاسیون له نرخونو سره مطابقت لري چې د اسمي عاید څخه د دوه کلونو د انفلاسیون سره تړلو دولتي بانډونو د عوایدو د تفریق څخه لاسته راځي.

IMF

**د بانډونو له عوایدو څخه د انفلاسیون رامنځته شوې تمې**

(سلنه)

په ورته وخت کې، د جیوپولیټیکي کړکیچونو شدت کولای شي د سمندري ټرانسپورټ او انرژۍ تولید نور هم ګډوډ کړي او یو ځل بیا انفلاسیون لوړ کړي. تر اوسه پورې، مالي بازارونه د انفلاسیون کچې د ټیټیدو د ودرېدو او نورو خنډونو او خطرونو په اړه په پراخه کچه هیله مند پاتې دي، ځکه چې د اقتصادي تګلارو د ناڅرګندتیا کچې د لوړیدو سربیره، اوس مهال د اصلي شتمنیو په بېلابیلو کټګوریو کې د نوسانونو کچې ټیټې شوي دي.

**د انفلاسیون د بدلونونو او احتمالي خطرونو پر وړاندې سمدلاسه غبرګون نه ښودل**

د احتمالي خطرونو لکه ټیټې اقتصادي ودې، لوړ انفلاسیون او نورو سربیره، د شتمنیو د بیو نوسان د اقتصادي تګلارو د ناڅرګندتیا له کچو څخه په پام وړ ډول ټیټه پاتې شوې ده.




سرچینې: باکر، بلوم او ډیویس (۲۰۱۴)؛ بلومبرګ فایننس .L.P او د پیسو نړۍوال صندوق د کارکوونکو محاسبې.
یادونه: ) داقتصادي تګلارې د ناڅرګندتیا شاخص( د ۱۲ میاشتني متحرک اوسط Z– درجه بندي ده په داسې حال کې چې (د شتمنیو د بیو اوسط نوسان) د ونډو لپاره د شیکاګو بورډ آپشنز د تبادلې د نوسان شاخص، د بلومبرګ د لوړ عاید لرونکي بانډ د نوسان شاخص او ډیویچ بانک د بهرنیو اسعارو د تبادلې نوسان شاخص د اوسط z– درجه بندۍ ۱۲ میاشتنی متحرک اوسط دی. Z– درجه بندي یو معیاري درجه بندي ده؛
0= د اوږد مهاله اوسط، 1–/+ = د اوسط څخه ښکته/پورته یو معیاري انحراف

IMF

## د شتمنیو د بیو نوسان او د اقتصادي تګلارو ناڅرګندتیا د بیا بیې اېښودنې خطرونه

په دوديز ډول، د شتمنیو د بیو نوسان او اقتصادي ناڅرګندتیا ترمنځ انحراف د نوسانونو څپې زیاتوي. دا زیاتوالی هغه مهال رامنځته کېدلی شي چې پانګوال د ناوړه اقتصادي ټکانونو له امله حیران شي او اړ وي چې د لوړې اقتصادي ناڅرګندتیا له امله د خپلو شتمنیو بیا ارزښت اېښودنه ترسره کړي.

د دغو ناوړه اقتصادي ټکانونو یوه بېلګه د وروستي پړاو پر مهال د انفلاسیون ناڅاپي لوړوالی کیدای شي. که څه هم چې په بېلابېلو هېوادونو کې د راتلونکي انفلاسیون اټکل لږ څه لوړ شوی، پانګوال لا هم د بنسټیزې تګلارې پر بنسټ د انفلاسیون د نرخونو کموالي ته هیله من دي، چې له دې ډلې د اروپا مرکزي بانک او د برازیل مرکزي بانک د انفلاسیون په نرخ کې د شاوخوا ۷۵ بیسس پواينټو د کمښت تمه لري.

په امریکا کې د انفلاسیون نرخ د لوړېدو سره سم، د فدرالي زېرمو بانک تمه لري چې د انفلاسیون نرخ شاوخوا ۵۰ بیسس پواینټه راکم شي. همدا ډول پانګوال پر دې باور لري چې د مرکزي بانکونو اړوند معلومات به د پولي سیاست بهیر اسانه کړي چې د انفلاسیون د لوړېدو بهیر نور هم ورو شي، خو که چېرې د انفلاسیون کچه لوړه پاتې شي، نو ښايي دا لوړې تمې چې د انفلاسیون لوړه کچه به له بانډونو څخه تر ونډو او کریپټو شتمنیو پورې د شتمنیو ارزان یا یوځلي پلور رامنځته کړي، له منځه ولاړې شي.

په دې سناریو کې به مالي شرایط په پراخه کچه سخت شي. له څه وړاندې به ځینې پانګه وال د خپلو شتمنیو د ارزښت له زیانونو سره مخ شي، په ځانګړې ډول هغه پانګه وال چې په پور متکي دي، د هغوی منفي عواید به لا ډېر شي. په نړۍواله کچه، پور اخیستونکي به د پور د بیا ورکولو پر مهال له ستونزو سره مخ شي، ځکه چې د بانډونو عواید یا ګټه به لوړه شي.

په دې حالت کې، د غوړېدو په حال کې هېوادونو پور اخیستونکي ډېر زیانمن کیږي. د دې هېوادونو ډېری صادروونکي له وړاندې د پور ورکړې له لارې د نوي پور له نرخونو سره مخ دي، چې په امریکایي ډالرو د دوی د پخوانیو ناتصفیه شوو بانډونو د ټکټانې له کچې څخه لوړ دي. تر ټولو زیان منونکي اقتصادونه یعنې هغه هېوادونه چې د B او CCC یا له دې څخه د ټیټ کریډیټ درجه بندي لري، د انفلاسیون د نرخ تر ټولو ډېر زیاتوالی تجربه کوي. د انفلاسیون له امله د نړۍوالو مالي شرایطو سختوالی به د بیا تمویل ترلاسه کول لا نور هم ستونزمن کړي.

## د انفلاسیون کمولو ژمنه

د انفلاسیون د کمولو په بهیر کې هر ډول ځنډ کولای شي پانګه‌وال حیران کړي، په ځانګړې ډول هغه کسان چې باور لري د انفلاسیون پر وړاندې جګړه لا پخوا بریالۍ شوې او ټیټ نرخونه به بېرته حاکم شي. خو هغو اقتصادونه چې لا هم دوامداره او له ټاکل شوي هدف لوړ انفلاسیون تجربه کوي، مرکزي بانکونه یې باید د پولي تګلارو په نرمولو کې بیړه ونه کړي، تر څو وروسته اړ نه شي خپلې پریکړې بېرته واخلي.

دوی باید د هغو پانګه‌والو د خوښ باورۍ د تمو پر وړاندې مقاومت وکړي، چې غواړي مالي سیاستونه ژر بېرته نرم شي،

ځکه چې دا باور د مالي بازارونو ثبات ته زيان رسولی شي. البته، که چيرې انفلاسيون په دوامداره توګه د ټاکل شوې موخې په لور روان وي، مرکزي بانکونه بايد د خپلو تګلارو سختوالی په تدريجي ډول راکم کړي، ترڅو اقتصاد ته لازم ثبات او اطمينان ورکړي.

د مالي ثبات د ساتلو لپاره اړينه ده چې هم مهاله لازم اقدامات ترسره شي او د احتمالي مالي خطرونو پر وړاندې دوامداره چمتووالی وساتل شي. مالي تنظيموونکې ادارې بايد ډاډ ترلاسه کړي چې بانکونه او نورې مالي مؤسسې د اقتصادي ننګونو، مالي کړکيچونو او نورو احتمالي ګواښونو په وړاندې د مقاومت وړتيا لري.

د دې موخې د ترلاسه کولو لپاره، يادې ادارې کولای شي د فشار ازموينې، مخکې له مخکې اصلاحات او د څارنيزو ميکانيزمونو له لارې د بانکونو او مالي مؤسسو ثبات تضمين کړي. په ځانګړي ډول، د بازل دريېم پړاو بشپړول چې د بانکونو د تنظيمولو يوه نړۍواله کړنلاره ده د بانکونو په مالي پياوړتيا او د خطرونو په کمولو باندې ځانګړی تمرکز کوي.

سربېره پر دې، د بيا رغونې او حل لارو ميکانيزمونه بايد لا ډېر پرمختګ وکړي، تر څو د مالي مؤسسو د احتمالي سقوط له امله رامنځته کېدونکي زيانونه کم شي. مرکزي بانکونه بايد ډاډ ترلاسه کړي چې بانکونه د اړتيا پر مهال نغدينګۍ (سياليت) ته لاسرسی ولري او د مالي ستونزو د حل لپاره په لومړيو پړاوونو کې لاسوهنه وکړي، ترڅو د مالي سکتور ثبات وساتل شي او د ټول اقتصادي نظام پر باور منفي اغېزه رامنځته نه شي.

